آصف بهاند

۲۰۱۴/۰۷/۲۳

# له بخارۍ نه ساړه او له زخمونه ګلان
# د فرید باراني یو شعر او زما تأثر

فرید باراني یو پر کاره، خوځنده او جدي ځوان دی، د نورو کارونو تر څنګ یې شعرونه هم په میډیا کې ډیر ځلي غاړه هسکوي. زما یې شعرونه او جدیت خوښ دی. د اوس له پاره یې د نورو فرهنګي کارونو په باب ځکه څه نه وایم، چې ماته یې په بشپړ ډول ځرنګوالی نه دی مالوم، خو کوم شعرونه یې چې زما له نظره تیر شوي دي، د هغو پر استناد وایم چې شعر یې نوي ښکلا لري او زما خوښ دی. زه فکر کوم چې فرید باراني په شعر کې د خپل فکر د پیاده کولو له پاره د لغاتو ډیر ښه لښکر لري، داسي لښکر چې د وخت او زمان تولې نا دودې او ښیګڼي ورته مالومې دي، ښې تجربې یې زده دي او فرید باراني یې د باران د نرمی په ډول داسي په ځای او په وخت کاروي، لکه وستا کار چې په دیواله کې د دیوال د سم جګولو له پاره خښتې کاروي.

د ۲۰۱۴ کال د جولای په ۲۱ سهار مې د مختکتاب په پاڼو کې د فرید باراني یو شعر ولوست. د ده د شعر په لوستلو سره مې د خپل عیني ژوندانه سر ګردانیو، په وطن او نړۍ کې د روانو حالاتو او نا خوالو طوفانونو په مغزو کې شور را پیدا کړ، په رګونو کې مې وینه لږ ګړندۍ شوه او له عادي حالت نه وتلی، بل ډول احساس را ته پیدا شو. د همدغسي شیبې حالت مې په دغو تورو او یو لنډ کې شعر سره انځور کړی دی، ننداري ته یې کینئ:

زه دې ته ډیر خوشاله یم چې د فرید باراني په شعر کې نوي ترکیبونه، د نوي تکنالوژۍ او اوسني وخت نومووني، په نوي ترکیب سره په هنرمندانه ډول د نویو شعري انځورونو په ډول سر اوچتوي. دغه څو ترکیبونه یې په همدي یوه توټه شعر کې ما ته نوي ښکاره شول او دا څو انځورونه مې تر اوسه بل چیرې نه وو تر سترګو شوي:

- له بخارۍ نه د سړو ښخیدل،
- رنګ تحمل،
- اور، اوبه او لوښي د تمسخر خندا کوي،
- د لمر ساړه هډونه،
- لا علاجه درد، د ډاکترانو نا توانې، ډاکتران باید هر څه له سره پیل کړي، او...

د فرید باراني هنر په دې کې دی چې دی په آزاد شعر کې د تولني دردونه او خپل روان سره را نغاړي او په ډیرو لنډو الفاظو او څو تورو کې یې له نتیجې سره د لوستونکو مخې ته ږدي.

ما دا خبره څو څو ځلې کړې ده او بیا به یې هم وکړم چې استاد صدیق روهي به کله نا کله په تولګي کې له موږ سره د بحث په ترڅ کې ویل:

«افغانستان د استثنا تو وطن دی، هر څه په کې پیښیدلای شي....»

او دا تجربې یو وار نه، څو ځلې ثابته کړې ده چې په افغانستان کې د هر څه د پیښیدو امکانات شته. لکه همدا اوس: تول هغه څه زموږ په وطن کې کیږي، چې باید نه وای شوي، او ډیر هغه څه نه کیږي چې باید شوي وای.

د فرید باراني په یاد شعر کې چې له بخارۍ نه د تودخې په ځای ساړه را څاځي، دا په افغانستان کې د هغو استثنا تو یوه برخه ده چې روهي صاحب ویلي وو.

کله مې چې د مختکتاب په پاڼو کې د فرید باراني یاد شعر ولوست، نو ما هم د شعر په نامه دغه څو توري د کاغذ پر مخ رسم کړل، کیدای شي د دې سر لیک هم استثنا وي:

## له بخارۍ نه ساړه او له زخمو نه ګلان

له بخارۍ نه چې ساړه ښخیږي
نو له ټپونو نه خندا را ښخیدلای نه شي؟
دغه ما نه،
دا بل چا نه،
دغه روهي راته تولګي کې ویلي:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په خیر و لولئ

«دغه وطن د استثنا وطن دی
دلته هر څه هره شیبه کې پیبنیدلای هم شي»
دلته لاسونه اوسرونه،
پښې اورمیږونه ریبیدلای هم شي
«دغه وطن د استثنا وطن دی
دلته هر څه هره شیبه کې پیبنیدلای هم شي»
دا هغه ښار دی چې ښاریان یې رنځوران دي او روغتون نه لري
دلته کیدای شي انسانانو نه ماران وزیږي
داسې اوه سرې ماران
چې په اویاوو خواوو خولې اچوي
دغه ماران زموږ مشران دي، کنډوالـو باندې حکمونه کوي
داسې مشران چې قدمو ته یې زلمی وینې توېږي او دوی خاندي ورته
او پرې د پاسه قدمونه ایږدي
«دغه وطن د استثنا وطن دی
دلته هر څه هره شیبه کې پیبنیدلای هم شي»
دلته کیدای شي بخارۍ نه ساړه وځیږي
دلته کیدای شي له زخمو نه ګلان وورېږي.
هیدرسلیف، ډنمارک
د۲۰۱۴ کال د جولای یوویشتمه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ